PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په مينځ کې پريکړه او حکم کاوه، نو بايد په عدل او انصاف سره يې وکړئ. بيشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصيحت کوي. او الله پاک ښه اوريدونکې او ښه ليدونکې دی. (النساء: ۵۸)

درس حديث

از نعمان بن بشير (رضی الله عنهما) روايت است که:
رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همديگر مانند يک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آيد، ديگر اعضای جسد در تب و بيدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق عليه)

شهادت پنځم کال، ۴۲ مه ګڼه، پرله پسې ۲۴۱ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د کب ۶ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د ربيع الثاني ۲۵ مه د ۲۰۱۴ م د فبروری ۲۵ مه

داکتر عبدالله عبدالله:

حمايت توليدات داخلی از اولويت های کاری من خواهد بود

کابل، رسانه ها:
داکتر عبدالله عبدالله نامزد رياست جمهوری درصورت پيروزی در انتخابات؛ حمايت از سکتور خصوصی و توليدات داخلی را از اولويت های کاری خود خواند.
وی که به روز دوشنبه در مورد برنامه های اقتصادی تيم اصلاحات و همگرايی اش در پارک صنعتی کابل سخن می گفت، افزود که عدم توجه به توليدات داخلی، باعث شده تا اين بخش با رکود مواجه گردد.

(ص، ۴)

د وژل شوو سرتيرو جسدونه د هغوی کورنۍ ته وسپارل شول

کابل، رسنۍ:
د هغو يوويشتو عسکرو جسدونه چې ورمه شپه د کونړ ولايت د غازي اباد په ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا وژل شوي وو، د کابل په خلورسوه بستر روغتون کې د دوی خپلوانو ته وسپارل شول.
د دې لپاره په ياد روغتون کې يومحفل هم تنظيم شوی چې؛ د دفاع او کورنيو وزيرانو او يو شمېر لوړپوړو دولتي چارواکو په کې ګډون کړی.
د دوی جنازو ته د دفاع وزارت د تشريفاتو قطعې درناوی وکړ او په عزت سره امبولانسونو ته پورته شوې.
په دې ورځ په ياد روغتون کې د هغو يوويشتو عسکرو تابوتونه ايښودل شوي وو چې د شنبې په شپه د کونړ ولايت د غازي اباد په ولسوالۍ کې د وسله والو طالبانو له خوا وژل شوي وو.
په دې مناسبت په دې روغتون کې د غمرازۍ يو محفل تنظيم شوی و چې، د دفاع او کورنيو چارو وزرانو،

(۴ مخ)

ترکيې د طالبانو د دفتر په اړه د پاکستاني رسنيو راپور رد کړی

کابل، رسنۍ:
له طالبانو د سره د سولې د هڅو په ترڅ کې په دې وروستيو کې داسې راپورونه خپاره شول چې ګواکې طالبانو ته د ترکيې په پلازمېنه انقره کې دفتر پرانيستل شوی دی، خو د ترکيې د بهرنيو چارو وزارت دغه راپور رد کړی دی.
د طالبانو پخواني جګ پوړی غړی ملا اغاجان معتصم چې له ۲۰۱۰ کال راپديخوا په ترکيه کې اوسي، په دې وروستيو کې يې په عربي متحده اماراتو کې د افغانستان د حکومت له چارواکو سره خبرې کړې دي.
ترکيې پرون د پاکستاني رسنيو هغه راپورونه رد کړل چې وايي، طالبانو د سولې د په ټپه دريدلو خبرو د بيا پيلېدو د هڅو په ترڅ کې ...

(۴ مخ)

وزارت خارجه افغانستان مذاکرات در امارات را با اهميت خواند

افراد که در گذشته در مخالفت با حکومت افغانستان قرار داشتند و امروز بخواهند که مذاکرات صلح را آغاز کرده و از طريق مسالمت آمير پيش بيايند ما از آنها استقبال می کنيم و به مذاکره با آنها اهميت قايل هستيم.

کابل، رسانه ها:
وزارت خارجه، افغانستان آغاز مذاکرات صلح در امارات متحده عربی با مقامات سابق طالبان يا مخالفان مسلح قبلی حکومت اين کشور را با اهميت می خواند.
شکيب مستغنی سخنگوی اين وزارت روز دوشنبه در صحبت با خبرنگاران در کابل گفت که حکومت افغانستان با استقبال از اين مذاکرات به دستيابی نتايج مثبت آن خوشبين است.
با آن که ذبيح الله مجاهد سخنگوی گروه طالبان افراد شامل در مذاکرات صلح در ...

(ص ۴)

د تسليت پيغام

ورمه شپه چې د کنړ په غازي آباد ولسوالي کې د ملي اردو ۲۱ تنه سرتيري د ناځرګندو دښمنانو په يوه ناخوانمردانه بريد کې په شهادت ورسيدل، حزب اسلامي افغانستان دغه دردوونکي پېښه په سختو ټکو غندي او د شهيدانو له وارثينو سره يو برابر په دې لوی غم کې خپل ځان شريک بولي.
د لوی الله له درباره شهيدانو ته د فردوس جنت او کورنۍ ته يې د جميل صبر غوښتنه کوي.
(انا لله و انا اليه راجعون)

انتخابات رياست جمهوری و نيم کاسه های زير کاسه

فدا محمد فايض (ص ۳)

○○○ اړين سپيناوی ○○○

مولوي سرفراز

د ځو ورځو را په ديخوا په خبري رسنيو او ان تر دې چې د شهادت په اونيزه کې زما په حواله ځينې خبري کډې وډې خپرې شوي؛ نو ځکه اړين وينم چې سپيناوی يې وکړم.
۱- حزب اسلامي افغانستان يو جهادي او سياسي تنظيم دی، په هېواد کې د نوي نسل د ويښتيا او د روسانو د يرغل پرخلاف يې بنسټيز رول لوبولی دی. او په همدې توګه يې د ناټو او امريکايي يرغل پرخلاف هم خپل رسالت په ښه شان مخ په وړاندې بيولی دی.
د حزب اسلامي غړو د امريکايي يرغل په اوږدو کې د خپلو حالاتو په رڼا کې دريغ نيولی دی. د حزب اسلامي د تصميم نيونې شورا په پريکړه ځينو غړو په افغانستان کې د خپلو حالاتو او مجبوريتونو په رڼا کې حزب اسلامي افغانستان د شته اساسي قانون له مخې د عدليې په وزارت کې ثبت او رسمي کړ. په دوه ځله يې د ولسمشرۍ په انتخاباتو، ولايتي شوراګانو په انتخاباتو او دوه ځله يې د ولسي جرګې په انتخاباتو کې برخه واخيسته او دادی اوس په دريم ځلې انتخاباتو کې هم برخه من دي.
د هېواد له يوه لوی جهادي او سياسي تنظيم جمعيت اسلامي افغانستان سره يې پېښه (۳۵) کلنه دښمني او کرکه ختمه او په شريک کمپاين کې روان شو، او ان شاء الله هغه ورځ رانژدې ده چې د حزب اسلامي د رهبريدلو، کړيدلو، زوريدلو، بې برخې او له ناخواليو سره مخ پرګنو نماينده انجينير محمدخان به ددې هېواد د جمهور رئيس لومړی معاون وي.
۲- حزب اسلامي افغانستان انشعاب ندی کړی يو تنظيم دی، د حزب غړي د خپلو حالاتو او مجبوريتونو په رڼا کې خپله تګلار په ګوته کوي.
د حزب اسلامي هغه غړي چې په هېواد کې دننه د عدليې وزارت په اجازه هلې ځلې کوي ...

(۳ مخ)

سطح تجارت بين افغانستان و پاکستان تا ۳ سال آينده دو برابر افزايش خواهد يافت

کابل، رسانه ها:
وزارت ماليه افغانستان می گويد قرار است تا سه سال آينده سطح سرمايه گذاری ها ميان افغانستان و پاکستان سالانه به پنج ميليارد دالر افزايش يابد.
مقام های افغان باور دارند که انکشاف فعاليت های اقتصادی با پاکستان می تواند در عرصه سياسی و امنيتی هم ...

(ص ۴)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

حزب اسلامي د حزب د ټولو غړیو ګډ کور

اختلاف د هیڅا په ګټه نه دی؛ ځکه اختلاف ته خدای (جل جلاله) او رسول (صلی الله علیه وسلم) ښه نه دي ویلي؛ بلکې مسلمانان یې وحدت ته رابللي. له دې حقیقته سترګې نه شو پټولای چې له کومې ورځې د موجه یا ناموجه دلایلو په وجه د اسلامي نهضت د غړیو ترمنځ اختلافات راغلل، د اختلاف یوه لوري هم ترینه ګټه ونه کړه، په پیل کې د اسلامي نهضت ټول غړي یوه خوله وو البته وروسته هم په عقایدو کې څه اختلاف رانه غي او کومه جدایي چې رامنځته شوه، هغه د عقایدو په وجه نه؛ بلکې د سلیقو په وجه وه چې اوس یې شاربلو ته اړتیا نه ګورو؛ خو دومره وایو چې کاشکې له پیله د نهضت د غړیو ترمنځ اختلافات نه وای رامنځته شوي. ومو لیدل چې دغو اختلافاتو وروسته دولس لیکو ته هم سرایت وکړ او هغسې پېښې یې رامنځته کړې چې پرون هم د تأسف وړ وې او نن هم د تأسف وړ دي او د لوی خدای (جل جلاله) له درباره مو هیله داده چې دا د اختلافاتو بهیر په همدې ځای تم شي. دا کار به تر ډېره پورې زموږ په سیاسي بصیرت پورې هم اړه ولري او زموږ دیني نصوص هم موږ ته همدا توصیه کوي چې له یوې سوړې بیا بیا ونه چیچل شو.

حزب اسلامي افغانستان چې د راتلونکې له پاره کومه تګلاره غوره کړې، یو خو یې آګاهانه غوره کړې او ټول اړخونه یې سنجولي او بله دا چې دا تصمیم د یوه کس خبره نه ده، دا یوه اصولي خبره ده چې اقلیت باید د اکثریت د پریکړې درناوی وکړي؛ ځکه هر څوک به د یوه نظر خاوند وي او د هر چا نظر محترم دی؛ خو د نهایي پریکړې له پاره یو څه اصول ضرور دي.

حزب اسلامي افغانستان پخوا هم؛ خو، له ۱۳۷۱ نه را په دې خوا ډېر زیانونه ولیدل. داسې زیانونه چې تراوسه یې تلافي نه کړای شول؛ نو دا به سهي خبره نه وي او سهي قضاوت به نه وي چې اوس هم د اصولو پرځای سلیقو ته ترجیح ورکړل شي. موږ نه خپل کوم ورور تخریبوو او نه یې په باب نامسؤولانه څرګندونې کوو، خو له هغو دوستانو هم چې خپل پاو قوت من ښیي دا هیله لرو چې په دغه او هغه رسنۍ کې د ناستې پر وخت ځان ته د تبارز ورکولو په خاطر نامسؤولانه څرګندونې ونه کړي، دا چې څوک له چاسره پر لار ځي هغه یې خپله خوښه او خپل تصمیم یې دی، وایي اختر پټ میره نه دی. دا چې څوک څومره قوت لري او څومره یې نه لري، هغه فیصله به د انتخاباتو ورځ کوي. اوس خو بازار د دموکراسۍ تود دی او د دموکراسۍ معنا داده چې هر سړی به آزادي لري؛ خو په یوه قانوني چوکاټ کې؛ خو دا آزادي هم باید داسې وي چې د بل چا آزادۍ ته زیان ونه رسوي او یا د چا پر شخصیت اهلیت او نورو مسایلو تیری ونه وشي.

حزب اسلامي افغانستان د خپلو ټولو ورونو په ادرس له یوه کامل درناوي وراخوا بل څه نه لري؛ خو زموږ هغو ورونو چې تر پرونه یې د یوه نوماند د ملاتړ خبرې کولې چې له تصویري رسنیو سره دهغوی خپلې څرګندونې یې ښکاره ثبوت دی، خو نن هغه دی، هغه په نیمه لاره کې پریږدي او د بل نوماند د ملاتړ غږ پورته کوي، موږ پر دې هم اعتراض نه لرو؛ ځکه دا تصمیم پخپله په هغو پورې اړه لري؛ خو دومره ویل به بېځایه نه وي چې هیڅوک هم باید ځان د نورو د تخریب له لارې غټ ونه ښیي، اوس یو هدف ټاکل شوی او هر څوک دې هدف ته د ځان رسولو حق لري؛ خو له یوې سالمې لارې او ددې سالمې لارې انتخاب د هر چا خپل حق او صلاحیت دی.

حزب اسلامي افغانستان سره له دې چې خپلو ټولو ورونو ته کامل درناوی لري؛ خو دا حقیقت هم په ګوته کوي چې له دولت سره یو قانوني راجستر شوی حزب دی، دا کور په حقیقت کې د حزب اسلامي د ټولو غړیو کور دی او هر وخت یې دروازه د هر غړي پرمخ خلاصه ده؛ خو که څوک د خپلې سلیقې له مخې ځانګړی تصمیم نیسي؛ د هر چا خپله خوښه ده؛ خو حزب اسلامي همیشه پر خپل قوت حساب کړی، نه دهغه چا چې ځان له دې ګډ کوره بیګانه بولي.

نصرالله

له تاریخي ویاړونو ولې غفلت کېږي؟!

د نړۍ هر ولس ځینې تاریخي او نه هېرېدونکې لاسته راوړنې او ویاړونه لري چې د خپل تاریخ په پاڼو کې یې په زرینو کرښو کې ثبت کړي او هر کال په ځانګړو ورځو کې دهغوی تجلیل او نمانځنه کوي.

زموږ هېواد هم د تاریخ په اوږدو کې ډېر تاریخي ویاړونه او لاسته راوړنې لري چې متأسفانه په دې وروستیو کې دهغوی د تجلیل او نمانځنې لپاره هغسې پاملرنه نه کېږي څنګه چې د یو بیدار او ژوندي ولس لپاره پکار ده.

افغانانو په څېر د نړۍ نور هېوادونه هم تاریخي ویاړونه لري چې استقلال ترلاسه کول یې تر ټولو لوی ویاړ ګڼل کېږي، هغوی د خپل استقلال ورځ په ډېرو شاندارو مراسمو تجلیلوي، د هېواد په ګوټ ګوټ کې ورته نمانځغونډې جوړوي، په رسنیو کې ځانګړې برخه ورته ورکوي او د استقلال د اهمیت او ضرورت په اړه علمي بحثونه او مباحثې خپروي. د خپلو شهیدانو قبرونو ته د ګلونو ګېډۍ ږدي او اتلانو ته هر کال

مډالونه ورکوي. په بازارونو کې چراغان کوي، د هر کور په چتونو، دوکانونو، ونو بوټو، لوړو ژورو او حکومتي ودانیو کې لوی لوی بیرغونه رپوي، او د آزادۍ ترانې وايي؛ خو ډېر افسوس چې په افغانستان کې دا کیفیت نه تر سترګو کېږي او صرف د یوه رسمي غونډې په جوړولو د لنډ وخت لپاره دغه ورځ نمانځل کېږي، په داسې حال کې چې یو ژوندی ملت هر وخت خپل تاریخي ویاړونه ژوندي ساتي او نه پرېږدي چې دوړه ورباندې کېني؛ نو ځکه ولس حیران دریان دی چې حکومتي چارواکي د کوم عذر له مخې ددغو تاریخي ویاړونو په تجلیلولو کې ناغېړي کوي؟ آیا دوی دغه ویاړونو ته د ارزښت په سترګو نه ګوري او که د وینې ګرم والي او احساسات یې څاره شوي دي؟!

افغانستان د قهرمان ولس ویاړونه وپالل شي، په هېواد کې د یو قوي اسلامي حکومت شتون اړین دی؛ خو دا هله ممکن کېدلی شي چې د جهادي ګوندونو مشران د اختلاف او افتراق پرځای پخپلو کې اتفاق او اتحاد وکړي او په یو صف کې ودرېږي. که اوس هم د خپل استقلال او عقیدې په خاطر د دښمن په وړاندې جنګېدونکو مجاهدینو مشران د تیر په څېر د اختلاف له غونډیو نه کوز نشي؛ نو شوني ده چې د اشغالګرو ځواکونو په خلاف د سرښندونکو مجاهدینو د حماسو تجلیل او نمانځنه بالکل ختمه او د نسیان په ردي ټوکرۍ کې واچول شي. فلهذا جهادي مشران دې ددې غلطۍ ښکار نشي چې د سلو، دوه سوو کسانو د غونډۍ په وړاندې د مجاهدینو او شهیدانو د ویاړونو او حماسو په ستایلو سره یې خپل مسؤولیت ترسره او د شهیدانو د وارثینو او مجاهد ولس همدردي یې ترلاسه کړې دی. هرګز نه! بلکې اصل حقیقت دادی چې د مجاهدینو ویاړونه او دهغوی حماسې هله تحقق موندلی شي چې د اسلامي ګوندونو مشران په اوسنیو ولسمشریزو ټاکنو کې د جلا جلا ودرېدو پرځای په یو اتفاق د یو مضبوط کاندید تر شا ودرېږي او د اسلامي ګوندونو د غړو او ملاتړو رایه خرابه نه کړي؛ نو ځکه د افغانستان د ټولو اسلامي ګوندونو مطلق اکثریت غړي د جهادي ګوندونو مشرانو ته په اوسنیو نازکو او برخلیک ټاکوونکو شرایطو کې یو ځل بیا د زړه له درده غږ کوي چې د خدای په خاطر نور واقعیتونه درک کړئ، د ګټې یقیني سنګر له لاسه مه ورکوئ، هغو کاندیدانو ته میدان مه خوشې کوئ چې هغوته نه د افغانستان ګټې مهمې دي او نه هم د افغانستان د مجاهد ولس ویاړونه او حماسې، بلکې یو موقت وخت لپاره راغلي او د خپلو ځولیو له ډکولو وروسته بیرته خپلو خپلو پخوانیو ځالو ته الوځي، وخت لا تراوسه له لاسه

د بیلګې په توګه له انګریزي استعمار نه د افغانانو د استقلال ورځ، د ثور په اتمه، د روسي یرغلګرو ځواکونو رسوا ماته او په ټیټ سر له افغانستان نه وتل، د جدي په شپږمه د مجاهدینو بری، په ۱۳۵۸ کال د حوت په دریمه د کابل ښار د قهرمان ولس پاڅون او حماسې. دا د افغانستان په تاریخ کې هغه ویاړونه دي چې د قیامت تر ورځې باید د افغانانو د راتلونکی نسل په ذهنونو کې تازه وساتل شي او په هېڅ حالت کې له هیره ونه ویستل شي. ددغو ویاړونو. نه تجلیلول اصلاً د خپلو اسلافو قربانیو، قهرمانیو او اتلولیو ته په سپکه کتل او خپل راتلونکي نسل د غفلت په زانګو کې په درانه خوب ویده کول دي. له بده مرغه په دې وروستیو کې لیدل کېږي چې زموږ حکومت ددغو ویاړونو په تجلیل او نمانځنه کې له ډېر سستي او غفلت نه کار اخلي، ددې پرځای چې د شاندارو غونډو په ترسره کولو سره د هېواد په ګوټ ګوټ کې ونمانځي، یا په دننه ارګ کې د ګوتو په شمار د څو شخصیتونو په راغونډولو سره په لنډو مقالو او تقریرونو ونمانځي او یا هم چېرته په هوټل کې.

زموږ د استقلال ورځ او د دښمن په مقابل کې زموږ د قهرمان ولس له حماسونه ډکه اتلولي موږ لپاره هغه مادي او معنوي ارزښت لري چې بل هیڅ څیز ورسره برابري نشي کولی او د همدغه حماسو او استقلال برکت دی چې د یو آزاد ولس په توګه د نړۍ په سر پیژندل کېږو. که زموږ قهرمانو اسلافو پخپلو بې انتها قربانیو او هلو ځلو خپل استقلال نه وای ساتلای د ژوند له ټولو خوږو نه به محروم وو، نه به مو خپلواکي درلوده او نه به مو شخصیت، بلکې په هر څه به مو د نورو د غلامۍ زنځیرونه په غاړو کې ګرځول؛ نو ځکه په دې وروستیو کې چې د حکومت له لورې د هېواد د تاریخي ویاړونو په اړه کومه سوړتیا او بې پروایي لیدل کېږي دا د افغانستان مسلمان ولس ته حیرانوونکې او د منلو وړ نه ده، د

په ۱۳۵۸ کال کې چې د کابل قهرمانو ښاریانو د ظلم او استبداد په خلاف په تش لاس کوم له حماسو نه ډک قیام کړی و، هغه د افغانستان د تاریخ یو نه هېرېدونکی زړه ور اقدام دی، ښایي د قیامت تر ورځې ژوندی وساتل شي او په شاندارو غونډو او مراسمو نه یوازې دا چې ونمانځل شي؛ بلکې دهغوی د ارمانونو د تحقق لپاره عملي ګامونه هم اوچت کړی شي؛ دې لپاره چې د مجاهدینو، مهاجرینو، معلولینو، د لکونو شهیدانو وارثینو دا ارمانونه تحقق ومومي او د

نه دی وتلی اوس هم په سلو کې سل شرایط دیته مساعد دي چې مشران خپلې سهوې جبران کړي یو بل ته د وحدت لاسونه په ورکولو سره دهغه چا ملاتړ وکړي چې د دریو لویو هېواد شمولو اسلامي ګوندونو د یووالې د بنسټ ډبره ایښې او د ګټلو یقیني چانس لري، تر څو راتلونکی لپاره د خپلو اسلافو ویاړونه هم په واقعي معنا په شاندارو مراسمو کې تجلیل شي او د اسلامي حکومت په جوړېدو د لکونو شهیدانو ارمانونه هم تحقق ومومي.

انتخابات ریاست جمهوری

و نیم کاسه های زیر کاسه

فدا محمد فایض

البته مداخلهٔ دولت تنها این نیست که به نفع یک کاندید صندوقهای رأی دهی را پر کنند، بلکه مداخله از خود طرق مختلف میتواند داشته باشد. زمینه سازی برای استعفای یک کاندید به نفع کاندید دیگر در حالی که هر دو کاندید محترم به نحوی نزدیکی با رئیس جمهور دارند، بدون مداخله در روند انتخابات، دیگر هیچ معنا و مفهومی نمیتواند داشته باشد.

تاریخ انتخابات ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی با گذشت هر روز نزدیکتر میشود. نظر به اهمیتی که انتخابات ریاست جمهوری دارد. انتخابات شوراهای ولایتی تحت تأثیر این انتخابات رفته است. کمپاین انتخابات ریاست جمهوری آغاز شده است و بتاریخ ۱۳ حوت ۱۳۹۲ کمپاین شوراهای ولایتی نیز آغاز خواهد شد.

البته همهٔ ملت اتفاق دارد که انتخابات یک نیاز ملی کشور است و ما بدون براه انداختن انتخابات مطابق به قانون بدیل دیگری برای گزینش رئیس جمهور جدید نداریم. بناءً باید همهٔ ملت تشویق شود تا افراد واجد شرایط در انتخابات سهم بگیرد؛ اما انتخابات زمانی با ارزش و مدار اعتبار خواهد بود که کاملاً غیر جانبدارانه و شفاف و عادلانه باشد. رئیس جمهور کشور هم وعده کرد، که در انتخابات بیطرف خواهد بود و از نامزد مشخصی حمایت نخواهد کرد. البته تمام کاندیداهای ریاست جمهوری منتظر عملی شدن همین وعده هستند؛ ولی هنوز بیشتر از یک ماه به تدویر انتخابات باقی مانده است که نشانه های آشکار از دخالت که از ارگ سرچشمه میگیرد در پروسهٔ انتخابات بچشم میخورد.

گرچه میگویند عاقلان را اشارتی. وقتی رئیس جمهور در آخرین جلسهٔ کشورهای عضو شانگهای اشتراک نمود و در حاشیهٔ آن با ولادیمیر پوتین رئیس جمهور روسیه دیدار و گفتگو نمود یکی از وزرای کابینه اش که درین سفر یار و همراه او بود به پوتین بحیث رئیس جمهور آیندهٔ کشور معرفی گردید. این حرف کدام شوخی نه بلکه یک واقعیت بود؛ زیرا حرف رئیس جمهور کشور بود. این موضوع را همهٔ رسانه ها بحیث یک نقطه قابل توجه بنشر رسانیدند؛ که حکایت از آیندهٔ کشور داشت؛ ولی وقتی رئیس جمهور کشور بعد از برگشت وعده سپرد که در انتخابات بی طرف باقی خواهد ماند، نامزدها از آن استقبال کردند و منتظر بودند که رئیس جمهور به وعده اش وفا کند؛ اما درین روزها تعدادی از موسفیدان و متنفذین از ولایات به کابل آمده اند تا بین دو نامزد ریاست جمهوری چنان آشتی کنند که یکی به نفع دیگری از کاندیداتوری خود صرف نظر کند. بقول منابع آگاه یک مرجع بزرگ دولتی درین امر دخیل بود، و این همه مصارفی که به ارتباط تجمع این افراد صورت میگیرد از کیسهٔ دولت است. این متنفذین بتاریخ ۳ / ۱۲ / ۱۳۹۲ در هوتل انترکانتیننتال تجمع داشتند طبق معلوم و براساس اظهارات آقای محمود کرزی برادر رئیس جمهور اکثریت این متنفذین یعنی ۷۵ در صد به نفع آقای عبدالقیوم کرزی برادر رئیس جمهور که نامزد ریاست جمهوری است رأی داده و ۲۵ درصد به نفع آقای داکتر زلمی رسول کاندیدای دیگر ریاست جمهوری رأی دادند که براساس فیصلهٔ این متنفذین باید آقای رسول به نفع آقای عبدالقیوم کرزی از کاندیداتوری اش استعفا میداد؛ ولی براساس برخی منابع رئیس جمهور ازین فیصله به بهانه یی اظهار تشویش میکند که درین صورت مردم خواهند گفت که رئیس جمهور به نفع برادرش مداخله کرده است. پس بهتر است عبدالقیوم کرزی بنفع آقای رسول مستعفی شود. تا حین نوشتن این سطور جریان بهمین گونه بوده است؛ ولی طبق آخرین معلومات این قرعه فال بنام آقای رسول زده خواهد شد.

بهمه حال گرچه بقول اظهارات مسؤولین کمیسیون مستقل انتخابات زمان رسمی استعفای یک نامزد به نفع دیگر گذشته است؛ ولی بصورت غیر رسمی هر نامزد میتواند بنفع دیگر از نامزدی اش استعفا دهد و با هم تعامل کنند. این حرف جای اعتراض و انتقاد ندارد؛ اما جای تشویش و اعتراض این است که دولت بخصوص رئیس جمهور با تعهدی که سپرده بود پشت پا میزند. متنفذین از سوی یک ارگان معتبر دولت فراخوانده میشود و تسهیلات سفر به کابل برای شان مهیا میگردد. مصارف مهمانی ها پرداخته میشود و برای معامله بین دو نامزد، میانجیگری میکنند و شاید این سلسله ادامه یابد.

از اینجا معلوم میشود که انتخابات آزاد، بی طرفانه و عادلانه تحت شعاع مداخلاتی که از همین اکنون مظاهر آن بصورت آشکار بچشم میخورد قرار خواهد داشت و این نشانهٔ آن خواهد بود که یک نظام نیرومند که مشروعیت خود را از آرای مردم گرفته باشد تشکیل شده نخواهد توانست و باز شاهد یک نظام ضعیف خواهیم بود که این امر دیگر برای ملت پذیرفتنی نیست.

افغانستان آنچنان که همگان میدانیم از حساس ترین مراحل تاریخ معاصر خود عبور میکند و چلنجهای فراوانی فرا راه آن قرار دارد. ما زمانی ازین موانع عبور کرده میتوانیم که دارای یک حکومت نیرومند باشیم و حکومت نیرومند زمانی تشکیل شده میتواند که در نتیجهٔ یک انتخابات کاملاً شفاف بمیان آید. دولت وظیفه دارد تا سنت یک انتخابات شفاف را در کشور نهادینه کند و مردم هم از نظر اخلاقی مسؤولیت دارند تا درین رابطه دولت را کمک کند؛ ولی اگر دولت خود در پروسهٔ انتخابات دل به مداخله خوش کند، بدون شک انتخابات را در بین افراد ملت بی باور خواهد ساخت و مسؤولیت عواقب آنرا هم دولت خواهد داشت.

البته مداخلهٔ دولت تنها این نیست که به نفع یک کاندید صندوقهای رأی دهی را پر کنند. بلکه مداخله از خود طرق مختلف میتواند داشته باشد. زمینه سازی برای استعفای یک کاندید به نفع کاندید دیگر در حالی که هر دو کاندید محترم به نحوی نزدیکی با رئیس جمهور دارند، بدون مداخله در روند انتخابات، دیگر هیچ معنا و مفهومی نمیتواند داشته باشد، چرا چنین سعی در حق کاندیداهای دیگر صورت نمیگیرد؟ پس معلوم است که در زیر کاسه، نیم کاسه یی وجود دارد و این مداخله در روند انتخابات کاملاً مشهود و محسوس است و دولت نمیتواند خود را ازین مداخله تبرئه کند.

عرض بنده این است که اشتباهات باید تکرار نشود، ما همه مسؤولیت ایمانی و ملی داریم تا در تدویر انتخابات سرتاسری و شفاف همکاری کنیم و دولت آنچنان که قبلاً عرض شد مسؤولیت اساسی دارد، بحرف معروف شاعر:

خشت اول گر نهد معمار کج
تا ثریا میرود دیوار کج

اگر این تهداب بار دیگر کج گذاشته میشود، در آینده نیز شاهد چنین بی تفاوتیها خواهیم بود. دولت مسؤولیت دارد، اشتباهاتی را که اگر در دو دور گذشتهٔ انتخابات صورت گرفته باشد، اصلاح کند و سعی شود که انتخابات شفاف در کشور ما جای پای خود را بیابد. اشتباهاتی که در دوره های گذشته بخصوص در انتخابات ۲۰۰۹ صورت گرفت اثرات منفی آن را در جریان پنج سال گذشته شاهد بودیم و تا اکنون این اثرات منفی زدوده نشده است. گرچه بنده به نفع و نمایندگی کدام نامزد مشخص حرف نمیزنم؛ ولی اگر انتخاباتی صورت بگیرد که شاهد مداخلات دولت باشیم چنانچه اولین جرقهٔ آن اینک کاملاً آشکار و بی پرده بچشم میخورد، میشود نتایج آن از سوی برخی از کاندیداها پذیرفته نشود و کشور را بسوی یک هرج و مرج ببرد که در آن صورت هم مسؤول دولتی خواهد بود که در انتخابات مداخله کرده باشد. میگویند پاک بازی؛ خدا راضی. بیایید راهی در پیش گیریم که پیش خداوند جل جلاله هم مسؤول نباشیم و پیش وجدان خود نیز و نتیجهٔ آن هم کاملاً روشن باشد. من بار دیگر بحیث یک فرد این ملت قهرمان تأکید میکنم که ما به یک حکومت مشروع و نیرومند نیاز داریم. دست و پنجه نرم کردن با مشکلات و مداخلات فراراه ما فقط یک دولت نیرومند می خواهد، ما در صورت داشتن حکومت ضعیف ضربه پذیر خواهیم بود: زیرا ضعف خود نشانهٔ ضربه پذیری است. این حقیقت را ما در جامعه خود از زندگی روستایی تا سطح دولت مشاهده میکنیم. امیدوارم دولت متوجه این امر باشد که هر آنچه به ارتباط انتخابات انجام میدهد. ملت کور نیست و آنرا می بیند.

اگر کاندیداها به ارتباط مداخلاتی که در حال شکل گرفتن است خموش بمانند و صدای اعتراض خود را بلند نکنند. من باور دارم همان مداخلات و تقلبات از قبل مهندسی شده که ملت از آن نگران است بوقوع خواهد پیوست و راه را برای یک انارشیزم، قانونگریزی و عدم حکومتداری مبنی بر قانون باز خواهد کرد.

انتخابات اساساً د رایه ورکوونکو ازمیښت دی

محمد خلیل

وینو چې ولسمشریزی ټاکنې رانږدي شوي، ماشاء الله په یو وړوکي هېواد کې د ولس د خدمت لپاره (۱۱) مخور کسان د سیالۍ په ډګر کې ولاړ دي او هر یو د هېوادوالو د ښه خدمت وعدې کوي. پخپلو کې یو بل ته په هېڅ څه کې هم ځان کم نه بولي او هر یو سینه ډبوي چې زه له بل هر چانه د ولس او خاورې د ښه خدمت زیات قابلیت لرم. ځینې کاندیدان خو داسې هم شته چې هغوی خپل ځانونه جامع الکمالات بولي او داسې ښکاره کوي چې هر څه دهغه په موټي کې دي، په ټاکنو کې له بریالي کېدو وروسته به په یوه چف ټول افغانستان گل و گلزار کړي؛ خو خبره داده چې دهغوی د بریالي کولو کیلي د افغانستان مسلمان ولس په موټي کې ده، ځکه خو هر یو په ډېر هنر کوښښ کوي چې دا کیلي دهغه په گټه استعماله شي، مگر ددغې کیلي استعمالوونکي د خپل خدای، رسول او دین په وړاندې مسؤول دي چې خپل دغه برخلیک ټاکونکی کیلي په ډېر غور، فکر، دقت او احتیاط سره استعماله کړي، نه دچا له احساساتي خبرو نه متأثر شي او نه دی هم د چا جذباتي او غولوونکو شعارونو نه، بلکې پخپله هم خپل عقل پکار واچوي او په سړه سینه دی غور وکړي چې دهغه د قیمتي رأیې څوک زیات مستحق دی، او هغه کس څوک دی چې د افغانانو د مجموعي غوښتنو د پوره کولو استعداد لري، اسلامي او کلتوري ارزښتونه یې هم ساتلی شي او اقتصادي او امنیتي اړتیاوې هم ترسره کولی شي، په افغانانو کې ملي وحدت هم راوستلی شي او فکري وحدت هم. په ټاکنو کې ولاړ کسان چې هر څوک دي او د هر څه د کولو اوچتې دعوې کوي: خو اصل امتحان د رأی ورکوونکو دی، د وچ او لانده ترمنځ د فرق کولو واک او اختیار د همدوی په لاسو کې دی، اصلاً د ازمیښت په ډګر کې رأی اچوونکي ولاړ دی چې د صحیح او غلط ترمنځ توپیر وکړي او حقدار ته خپله رایه واچوي. خپل اسلامي او ملي مسؤولیت ترسره کړي او خپل راتلونکی زعیم داسې څوک غوره کړي چې که په سلو کې سل سکن نه وي په نسبي ډول داسې یو اهل، دیندار او امین شخص د ولسمشرۍ په څوکۍ کښېنوي چې د خپل ولس دیني او کلتوري اړتیاو په نظر کې نیولو سره د ژوندانه د نورو اړتیاو د پوره کولو قابلیت هم ولري. په سلو کې سل رأی اچوونکي ته دا حق ورکول شوی چې د خپل هېواد راتلونکی زعیم وټاکي. دهغه د رایې دا حق، نه څوک ترینه تښتولی شي او نه هم څوک وریاندې جبر کولی شي چې هغه ته یې واچوي. نه څوک دهغه فکر او غور ته قلف اچولی شي او نه هم لاسو ته یې. هغه د خپلې رأیې د صحیح استعمال په اړه فکر هم کولی شي او غور هم. ضمیر یې هم ازاد دی او پرېکړه یې هم. دا وخت د غلطو او جذباتي پرېکړو نه دی. ټاکنې نه ټوکې دي نه مسخرې. بلکې دا د پنځو کلو لپاره خپل سرنوشت د ټاکلو قیمتي وخت دی. په دې کې وړه غونډې تېروتنه هم زموږ سرنوشت غلطو لاسونو ته حواله کېدلی شي چې له نه جبران کېدونکی تاوان سره به مخامخ کېږو.

ښه به دا وي چې د افغانستان هر مسلمان رایه ورکوونکی له همدې نن نه د الله تعالی دی حکم ته متوجه شي چې فرمایي: تاسې امانتونه هغه چاته وسپارئ چې دهغوی د ساتلو او ترسره کولو اهلیت ولري. د همدغه الهي حکم له مخې هر رایه ورکوونکي د خپل پالونکی ذات په وړاندې مسؤول دی چې خپله رایه سمه استعماله کړي او چې څه کرې هغه به ریبي د مصداق د ترلاسه کولو لپاره داسې یو اهل شخص ته خپله رایه ورکړي چې سبا ته د اغزیو پرځای چې د پښو خار شي د گلونو چمن ترلاسه کړي.

موږ ټولو ته معلومه ده چې په انتخاباتو کې داسې اشخاص هم ولاړ دي چې له روان بحرانه د هېواد د ایستلو جوګه نه دي. د بې دریغه سرمایه درلودلو باوجود دی غریب ولس ته یې نه چیرته روغتون جوړ کړی او نه هم ښوونځي او مدرسه. نه یې په جهاد کې برخه اخیستې او نه یې هم په بیارغونه کې. که رایه ورکوونکي خپلې رایې داسې اشخاصو ته ورکړي؛ نو خامخا به یې له خپل دین، هېواد او د مظلوم ولس سره ستره جفا کړې وي. نه ښيي داسې گام اوچت کړی شي او خپل سرنوشت پخپل لاس دهغه چا په لاس کې ورکړی شي چې زموږ د خرمن د وېستلو لپاره یې خپلې لستوڼي بډ وهلي دي.

اړین سپیناوی...

... همځکله له هغو وروڼو سره چې د عدلیې وزارت چوکاټ نه مني، له امریکایانو او ناټو سره په جنگ اخته دي. دښمني او مخالفت نلري.

دا امریکایان، ناټو او د واکمن نظام تور لست دی چې مونږ یې یو له بل څخه لرې کړي یو. کله چې دا پولې ورانې شوې د حزب اسلامي غړي به خپل بنسټیز جوړښت په رڼا کې یو له بل سره کیني او د یو حزب اسلامي چوکاټ به جوړ کړي.

۳- په زغرده باید ووایم چې مونږ له ښاغلي حکمتیارصاحب بلکې له ملا محمدعمر صاحب سره هم هېڅ ډول ورانی نه لرو. دا امریکایان، ناټو او واکمن نظام دی چې له هغوی سره دښمني کوي.

۴- د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي یو دریځ به ان شاء الله افغانستان له پاشلو څخه ژغوري، یو موټی، خپلواک او په خپلو پښو ولاړ افغانستان به جوړوي.

او دهغو ټولو هلو ځلو مخه به نیسي چې غواړي پدې هېواد کې، فساد، بداخلاقي، بې حیایې او له اسلامي شریعت څخه مخالفو کارونوته وده ورکوي. د سیکولرستي (بې دینی) نظام مخه به نیسي، په هېواد کې به هر اړخیزه سوله راولي، او دالله نظام به د الله په ځمکه د الله پربندگانو پلی کوي.

۵- مونږ په هېواد کې د هیڅا د کاندیداتورۍ مخه نه شو نیولی، له سیکولرستانو سره چې په حٔفاسته کې برخه اخلو. او عیب یې نه گڼو په همدې شان هلال صیب زمونږ ورور دی. پدې حٔفاسته کې دهغه برخه اخیستل په مونږ درنه نه ده.

خو د خپلو تجربو په رڼا کې وایو چې په انتخاباتي حٔفاسته کې د هلال صیب بې وخته منډه اخیستل نه د حزب اسلامي غړو او نه د هېواد اسلامي فکر لرونکو خلکو ته گټه رسولای شي. بلکې مسلمانان سره لا په جلا، جلا لیارو ویشي او سیکولرستانو ته داد ورکوي چې د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره په زړورتیا قدمونه پورته کړي.

۶- حکمتیار صاحب چې هر چېرې وي الله دې یې وساتي، مونږ یو له بل سره له (۴۰) کلونو زیات کډ ژوند کړی دی. مونږ د افغانستان د اسلامي حزب ټول مشران او کشران له جهاد وړاندې ناپېژندلي خلک ؤ. له خپل کور څخه بیرون په کلي، ولسوالۍ، او خپل ولایت کې هم چا نه پېژندلو. دا جهاد او اسلامي تحریک و چې په مونږ کې یې چاته تربوال، چاته هېوادوال او چاته کلیواله پېژندگلوي ورکړه. مونږ یو د بل ملاتړي یو. یو پر بل د احسان بارولو ارزښت نه لرو، او نه باید ناپوه او له حالاتو ناخبره خلک دې ټکي ته هوا ورکړي. او داسې څه زمونږ ترمینځ ونه لیکي چې مونږ یې یو د بل پرخلاف ویل لاځه چې د اوریدلو حوصله هم نلرو.

د ټولنيزو، سياسي او كلتوري مسايلو خپرونه
شهادت
اونيزه
د حزب اسلامي افغانستان مركزي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل "خليل"

د اړيکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه سترديږي - بوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ډيزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مينه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

اصلاحات او همپالنه

حمایت تولیدات داخلی از اولویت ...

این نامزد انتخابات ریاست جمهوری که برنامه های اقتصادی تیمش را با رفتن به کارخانه های تولیدی بخش خصوصی تشریح و آغاز کرده است، افزود: "ما خواستیم برنامه اقتصادی خود را ازفابریکه که با استفاده از تولیدات میوه و موادغذایی خود کشور محصولاتی را تولید و در خدمت مردم کشور قرار می دهد، اعلان نماییم."

داکترعبدالله عبدالله برنامه اقتصادی اش را تبدیل اقتصاد وارداتی به اقتصاد تولید محور عنوان نموده گفت که در این شکی نیست که در ۱۲ سال اخیر دستاوردهایی وجود داشته؛ اما با همان امکانات، افغانستان نتوانسته است که به خود کفایی برسد.

وی افغانستان رامتکی به کمک های خارجی دانسته، علاوه نمود که با تقلیل کمکهای خارجی که روز تا روز کم می شود وفاصله بین ضروریات و مصارف افغانستان و آنچه که برای رشد اقتصاد و پیشبرد امور ضرورت دارد، رقم پولی آن به ۸ ۷ میلیارد دالر میرسد که تولیدات داخلی، می تواند تنها یک رقم کمی از این نیازمندی را تکافو کند.

این نامزد انتخابات ریاست جمهوری، از پایین آمدن رشد اقتصادی افغانستان در سالهای اخیر از ۹ به ۴. ۵ درصد سخن گفته و آنرا خبر ناخوش آیند برای افغانستان دانست.

داکتر عبدالله، بیکاری در نسل جوان را نگران کننده خواند و گفت که بر بنیاد احصائیه مرکزی، رقم بیکاری در کشور ۲۵ درصد را تشکیل می دهد واینکه ۵. ۳۶ درصد نفوس کشور زیر خط فقر زندگی می کنند، خود تهدید بزرگ برای امنیت، ثبات و اقتصاد کشور است.

وی وعده داد که بر اساس برنامه هایی که دارد، ظرف پنجسال آینده حداقل یک میلیون شغل را ایجاد می نماید که در سال اول، ۸۰ هزار شغل و در سالهای بعدی چند برابر خواهد شد.

موصوف از کاهش خط فقر نیز اطمینان داد و گفت این رقم که فعلاً بالای ۳۶ درصد است، آنرا به پائین تر از ۲۰ درصد خواهد رساند.

داکتر عبدالله با انتقاد از دولت و جامعه جهانی تذکر داد، همانطوریکه روی برنامه انتقال امنیتی کار صورت می گرفت، روی برنامه اقتصادی هم باید کار می شد؛ اما این فرصت در آن وقت از دست رفت.

وی، برای رشد اقتصاد افغانستان به منابع زیرزمینی و آبی، موقعیت استراتیژیک، اقلیم خوب و اراضی مناسب به زراعت اشاره کرده گفت، افغانستان کشوری است که ۶۵ درصد آنرا نیروی جوان که سرمایه بشری است، تشکیل می دهد و در صورتیکه خوب استفاده شود، می تواند سبب رشد اقتصادی کشور گردد.

داکتر عبدالله عبدالله نامزد انتخابات ریاست جمهوری افزود که برای تامین امنیت، امضای موافقتنامه امنیتی افغانستان و امریکا می تواند یک اطمینان را به مردم ایجاد کند تا بتوانند سرمایه را به کار اندازند وبه خود و مردم خدمت نمایند.

د وژلو شوو سرتیرو جسدونه ...

یو شمېر لوړ پوړو دولتي چارواکو او د وژل شويو عسکرو خپل خپلوانو په کې ګډون کړی و.

د دفاع وزیر جنرال بسم اله محمدی وویل، دا د امنيتي ځواکونو هغه منسوبين و چې د خلکو او هېواد د خدمت په لاره کې قرباني شول؛

"دوی ژوندي دي، زموږ اتلان دي، په قوي روحيه له دښمن سره وجنګېدل.

دوی د لومړي ورځې له ژمنې سره سم چې هېواد ته به خدمت کوي، خدمت او سربښندنې وکړې.

د دوی له وینې او لارې څخه به دفاع کوو"

د شنبې په شپه د کونړ ولایت د غازي اباد په ولسوالۍ کې د یوې امنيتي پوستې پوويښت عسکر د وسله والو طالبانو په یوه برید کې ووژل شول.

دا عسکر چې د هېواد له مختلفو ولايتونو څخه و، جسدونه يې د يکشنبې په ورځ کابل ته انتقال شوي وو.

د دفاع وزارت چارواکو وويل، د وژل شويو جسدونه به نږدې سیمو ته په موټرو او لیرې ولايتونو ته په طيارو کې ولیږدوي او له کورنيو سره به يې مرستې وکړي.

د وژل شويو د کورنيوغړو ويل، په دې سربښندنو وياړي، ځکه چې د هېواد او خلکو په خدمت کې شوي دي.

دوی ويل دولت بايد په راتلونکي کې د داسې پېښو مخه ونيسي، د تخار ولايت د درقد ولسوالۍ يوه اوسيدونکي چې ورور يې وژل شوی او د باميانو ولايت اوسيدونکي غلام حسين ازادی راديو ته وويل:

"۱- زما ورور شهيد شوی، اتلس کلن يا نولس کلن و، واده يې نه درلود، په خپله خوښه امنيتي ځواکونو ته تللی و، چې د خلکو خدمت کوم، پنځه لس ورځې يې پاتې وې چې دنده يې پای ته ورسېږي.

له دولته غواړو چې د امنيتي ځواکونو په ليکو کې ناوړه کسانو ته ځای ورنه کړي.

دا کار د خلکو دښمنانو ترسره کړی، دولت بايد په دې اړه جدي اقدامات وکړي.

۲- زما نوم غلام حسين دی، زوی مې شهيد شوی، درې دريم کاله کېږي چې عسکر و، هره شپه به يې په موبايل له مور سره خبرې کولې، خو ورمه شپه يې موبايل بند و. مور يې د زړه ناروغي لري، هغه مو روغتون ته ورسوله."

د افغانستان د دفاع وزارت ويلي، چې د کونړ په غازي اباد کې په ياده حمله کې په سلګونو کورنيو او بهرنيو وسلوالو مخالفينو برخه اخيستې وه.

په کونړ او ځينو نورو سرحدي سيمو کې پخوا هم داسې پېښې شوې دي، چې په سلګونو افغان او پاکستانيو طالبانو يو ځای پر يوې امنيتي پوستې يرغل ور وړی او افغان ځواکونو ته تلفات اړولي.

د افغانستان د سياسي چارو ځينې کتونکي په دې باور دي چې دا رنګه حملې د پاکستان د ځينو استخباراتي او پوځي کړيو په مرسته کېږي.

دا هغه ادعا ده چې پاکستاني چارواکو تل رد کړې ده.

وزارت خارجه افغانستان مذاکرات ...

امارات متحده، عربی را متعلق به این گروه نمیداند اما سخنگوی وزارت خارجه افغانستان می گوید که آنان به این گونه اظهارات طالبان اهمیت قایل نیستند:

"افراد که در گذشته در مخالفت با حکومت افغانستان قرار داشتند و امروز بخواهند که مذاکرات صلح را آغاز کرده و از طریق مسالمت آمیز پیش بیایند ما از آنها استقبال می کنیم و به مذاکره با آنها اهمیت قایل هستیم.

افراد که مخالف آغاز عملی مذاکرات صلح افغانستان هستند بدون شک کسانی هستند که به اشاره استخبارات کشور های خارجی حرکت می کنند، ما به آنها اهمیتی قایل نیستیم."

یک هیات چهار عضوی شورای عالی صلح به رهبری معصوم ستانکزی رییس دارالانشای این شورا، در بیست و هفتم ماه دلو جهت آغاز مذاکرات صلح با نماینده های طالبان مسلح به امارات متحده عربی رفت.

شورای عالی صلح افغانستان گفته است که در این مذاکرات مقام های مهم سابق گروه طالبان شرکت داشتند و برای ادامه، مذاکرات صلح با حکومت افغانستان ابراز آماده گی کردند.

تلاش ها برای مذاکرات صلح با طالبان از چندین سال به اینسو ادامه دارند، اما این اولین باریست که دو جانب به صورت رسمی با همدیگر ملاقات می کنند.

هر چند شورای عالی صلح افغانستان نام نماینده های طالبان را که در این نشست اشتراک داشتند مشخص نساخته است اما گزارش های وجود دارند که این طالبان به خواست آغا جان معتصم عضو پیشین شورای کویته طالبان در این نشست حضور یافتند.

شورای عالی صلح گفته است که در این نشست روی ختم جنگ جاری در افغانستان و تسریع پروسه صلح این کشور تاکید صورت گرفته است.

شکیب مستغنی سخنگوی وزارت خارجه افغانستان در نشست خبری روز دوشنبه در پاسخ به یک سوال رادیو آزادی در خصوص پروسه، صلح، بازهم همکاری صادقانه، پاکستان در این رابطه را مهم خواند:

"ما همیشه تاکید می کنیم که در امر مبارزه با تروریزم از سوی پاکستان همکاری صادقانه صورت گیرد، این به معنی آنست که کسی مارهای زهری را در خاک خود پرورش دهد، آنان باید بدانند که این مار افراد دیگری را هم خواهد گزید، تروریزم دشمن مشترک افغانستان و پاکستان است."

در این حال سخنگوی طالبان مسلح گفته است که گفتگو های صلح با آغا جان معتصم و سایر اشتراک کننده ها در مذاکرات صلح در امارات متحده، عربی، برای آنان مفهومی ندارد.

اما به باور برخی از آگاهان به شمول آغا جان معتصم برخی دیگر از اعضای سابق طالبان هنوز هم بر افراد این گروه نفوذ دارند.

این آگاهان می گویند در حال حاضر گروه طالبان به دو بخش تقسیم شده اند که تعداد آنها علاقمند صلح هستند و تعدادی دیگر شان خواهان ادامه جنگ با نیروهای امنیتی افغان و بین المللی اند.

اما این کارشناسان تاکید می کنند تا زمانی که طالبان مسلح که در میدان جنگ می رزمند حاضر به مذاکرات صلح نشوند، ختم جنگ و تامین صلح در کشور ناممکن است.

ترکیې د طالبانو د دفتر په اړه د ...

په ترکیه کې سیاسي دفتر پرانیستی دی.

د فرانسپرس خبري آژانس د راپور له مخې د طالبانو د دفتر د پرانیستلو خبر فرونټیر پوست خپرونې ورروسته له هغې ورکړی چې په انقره کې د رواني میاشتې په پیل کې د افغانستان، پاکستان او ترکیې مشرانو په درې اړخیزه غونډه کې ګډون کړی و.

د ترکیې د بهرنیو چارو وزارت دغه راپور رد کړی او ویلي یې دي چې په ترکیه کې د طالبانو لپاره دفتر نه دی پرانستل شوی.

فرونټیرپوست دغه راز ویلي، چې د پاکستان د استخباراتو جګ پوړو چارواکو په انقره کې د طالبانو د مشرملاعمر له سیاسي سلاکار سره کتلي دي.

ترکیې مخکې ویلي و، چې په افغانستان کې د سولې د پروسې ملاتړ کوي او دې ته تیاره چې په په خپله خاوره کې د طالبانو لپاره دفتر پرانیزي.

په سیمه په تیره بیا ترکیه او سعودي عربستان کې د طالبانو لپاره د سیاسي دفترد پرانیستلو مساله وروسته له هغې ډېره مطرح شوه، چې د ۲۰۱۲ میلادي کال په جون میاشت کې په قطر کې طالبانو د ځان لپاره دفتر پرانیست خو د افغانستان د حکومت د اعتراض په نتیجه کې ډېر ژر بیرته وترل شو.

که څه هم په دې وروستیو کې په متحده عربي اماراتو کې د طالبانو او د افغانستان د سولې د عالي شورا د استازیو ترمنځ د خبرو راپورونه ورکړل شول او د سولې عالي شورا هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره دغه غونډه تایید کړه خو طالبانو د یوه بیان په خپرولو سره دغه خبرې رد کړې او ویې ویل چې د غونډې ګډون وال د طالبانو استازیتوب نه کوي.

په دې خبرو کې ملا اغاجان معتصم چې د طالبانو د کوټې د شورا غړی وو، برخه اخیستې وه.

نومړی د ۲۰۱۰ میلادي کال د پاکستان په کراچۍ ښار کې د نامعلومو وسله والو په حمله کې ټپي شوی و چې له هغې راهیسې په ترکیه کې اوسیږي.

د افغانستان حکومت له وسله والو طالبانو سره چې په دې وروستیو کې یې حملو ته زور ورکړی، د سولې د خبرو د پیلیدو هڅې تیزې کړې ترڅو د روان ۲۰۱۴م کال تر پایه له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو له وتلو مخکې یوه جوړجاړي ته ورسیږي.

سطح تجارت بین افغانستان و ...

تاثیرات مثبت در پی داشته باشد.

نهمین کنفرانس همکاری های اقتصادی افغانستان و پاکستان به هدف تقویت سرمایه گذاری ها میان دو کشور این بار در کابل تشکیل جلسه داده و دو روز ادامه خواهد یافت.

هم اکنون میزان سرمایه گذاری ها میان افغانستان و پاکستان سالانه به دونیم میلیارد دالر می رسد.

حضرت عمر زخیلوال وزیر مالیه افغانستان در این کنفرانس گفت که در نظر است این رقم دو برابر افزایش یابد:

"بلند بردن سطح تجارت میان دو کشور با دو برابری که امروز است این تجارت امروز در حدود دو نیم میلیارد است در دو سه سال آینده به پنج میلیارد خواهد رسید.

ایجاد روابط های اقتصادی دو طرفه موثر ترین راه برای تقویت دوستی میان دو کشور و در سطح منطقه خواهد شد."

بحث تقویت سرمایه گذاری میان افغانستان و پاکستان در حالی مطرح می شوند که در این اواخر به گفته مقام های افغان واردات افغانستان از راه پاکستان حدود ۴۰ درصد کاهش یافته است.

در این کنفرانس دو روزه به رهبری وزیران مالیه افغانستان و پاکستان روی موارد مختلف اقتصادی مثل انتقال پروژه برق و گاز از آسیا میانه از طریق افغانستان به پاکستان، ایجاد خط آهن در قندهار و جلال آباد، سهولت ویزه به تجار هر دو کشور، همکاری ها در بخش های صنعت، زراعت و مالداری و ایجاد بورسیه های تحصیلی به محصلین افغان بحث کردند.

در کنفرانس دو روزه، همکاری های مشترک اقتصادی افغانستان و پاکستان هر دو طرف ابراز امیدواری کردند که این بحث ها نتیجه مثبت در پی داشته باشد.

در این حال جانب پاکستان تعهد کرد که در خصوص انکشاف اقتصادی افغانستان آماده هر نوع همکاری اند.

محمد اسحاق دار وزیر مالیه پاکستان به حکومت افغانستان پیشنهاد کرد که تفاهمنامه ترانزیتی میان افغانستان و پاکستان به تاجکستان هم وسعت داده شود:

"پیشنهاد من اینست که تفاهمنامه افغانستان و پاکستان به تاجکستان هم چنان وسعت داده شود پس لطفاً روی این مورد غور کنید که اگر در این تفاهمنامه تاجکستان هم شریک ساخته شود من فکر می کنم این کار به نفع هر دو کشور تمام خواهد شد."

مقام های افغان و پاکستانی در حالی روی همکاری های اقتصادی میان کشور های شان تعهد می کنند که تجار افغان به عملی شدن این تعهدات به دیده شک می نگرند.